هېڅ داسې یو بنده نشته چې الله تعالى د یو رعیت (چارې) ورترغاړې کړي، بیا مړ شي او په کومه ورځ چې مړ کیږي نو خپل رعیت لره غولوونکی وي، مګر دا چې الله تعالى به پرې جنت حرام کړي

له معقل بن یسار المزني رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې ما له رسول الله صلى الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې فرمایل یې: "هېڅ داسې یو بنده نشته چې الله تعالى د یو رعیت (چارې) ورترغاړې کړي، بیا مړ شي او په کومه ورځ چې مړ کیږي نو خپل رعیت لره غولوونکی وي، مګر دا چې الله تعالى به پرې جنت حرام کړي".

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلى الله علیه وسلم خبر ورکوي چې هر هغه څوک چې الله تعالى د خلکو حاکم او مسوول وګرځوي، که هغه د شهزاده (امیر) په څېر عمومي مسؤولیت ولري، یا خاص مسوولیت ولري لکه سړی او یا ښځه په خپل کور کې، نو په خپل رعیت کې یې کوتاهي وکړه، او دوکه یې وکړه او په اړه یې سپارښتنه ونکړه، دیني او دنیوي دواړه حقونه یې ورته ضایع کړل، نو د دې سختې سزا مستحق دی.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5335

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee